# ستر

# فیلسوفان

لیکوال: برایان مگی

Ketabton.com

ترجمه: امین رنځور

ketabton.com - The Digital Library

# The Great Philosophers

(An Introduction to Western Philosophy)

## د غرب د مشهورو فیلسوفانو د ژوند مختصر مالومات

## د گریټ فیلسوفرز کتاب له منځه راټوله شوی پانگه

خپرندوی: ملي فکر ټولنه

کمپوز: سلیم صابر

د نشر کال: ۱۳۹۴ هـ ش

ketabton.com - The Digital Library

# د ژباړن لنډې خبرې

په دې کتاب کی موږ یوازې د غربي فلسفې د مشهورو اشخاصو په ژوند خبره کړې ده، د غرب فلسفه یانی له دوه نیم زره کاله مخکې وخته هغه پیژندل شوی علم چی نړۍ یې تر تاثیر لاندی راوستی وه، دا دوره له سقراط نه مخکی شروع کیږي. ددې دورې شروع کوونکي له سقراط نه مخکی یوناني حکماء ول، او سر یې معمولاً طالس (له میلاده شپږپیړۍ مخکی) معرفي کیږي.

باید ووایو چی کوم څه موږ په دې کتاب کی ددغه سترو اشخاصو په اړه لیکو ددوئ د عظمت او فکر په وړاندې ډېر کم دي لکه چی یو معاصر فیلسوف وایي: غواړم ووینم چی زموږ له منځه داسی څوک دی چی دوه زره پینځه سوه کاله وروسته یې یوازې څو جملی له ویناوو او لیکنو نه باقي پاتی وي خو بیا یې هم خلک د تعظیم لپاره سرونه ټیټ کړي او له افکارو یې متأثر واوسي.

په هرصورت دومره به ووایو چی که څوک پوه نه وي باید پوه شي چی د علم او هنر د لویانو افکار هغه خزانه ده چی متولیانو یې دروازې ته قلف اچولی او کیلي یې په جیب کړي وي خو یوازې هغه وخت چی یو همفکر یې د دروازې له چاوده نظر وراچول وغواړي. سترفکري او ذوقي کارونه د ټولو انسانانو مشترک میراث دی او هرنسل حق لري چی په هغو کی له نوي سره څیړنه وکړي او خپل مشکلات چی تیر نسلونه یې په اړه بی خبره ول له سره بیا د همدغه آثارو په تله کی واچوي او یوه مناسبه حل لاره تری راوباسي. زه باوري یم چی زما ژباړه به حتمي هغسی نه وي چی لیکوال یې محتوا انتقالول غوښتي وي ځکه چی کتاب ددوه ژبو له کنډې وځي نو خامخا به د پانګی په راوړلو کی کمي شوي وي چی زه یی هم له لیکوال او هم له لوستونکو دواړو نه معذرت او بخشش غواړم.

امین رنځور

جلال اباد پښتونستان واټ امین پلازه ۱۳۹۴هـ ش

ketabton.com - The Digital Library

# افلاطون



د غرب د فلسفې د سرګذشت په هکله هر کوشش باید له لرغوني یونان نه پیل شي، نه یوازې لومړني فیلسوفان بلکې د غرب ستر فلاسفه هم له ددوئ له منځه راپورته شوي دي. د چا نوم چې له ټولو اشنا دی هغه سقراط دی چې له میلاده ۳۹۹ کاله مخکې له نړۍ تللی، خو له هغه مخکې هم په یونان کې نور برجسته فلاسفه ول لکه فیثاغورث او هراکلیتوس چې ډیر مشهور دي او همدا راز نور چې له دوئ کم نه ول. له ټولو لومړی طالس وو چې په شپږمه پیړۍ ق-م کې ځلیده.

له سقراطه مخکې ټول فیلسوفان په دې کې ګډ ول چې غوښتل یې د طبیعت مبدأ پیدا کړي، د نن په ژبه ستورپیژندنی (نجوم) یا علم ته له یوې خوا او فلسفې ته یې له بلې خو یو ډول توجه کوله، خو په دوئ کې سقراط وو چې له دې هغوا نورو مسایلو ته وروخوځېد ځکه پوهېده چې له دې مسایلو ډیر څه چې موږ ورته اړ یو هغه دادي چې څنګه ژوند وکړو نه دا چې طبیعت څنګه عمل کوي، او د ژوند د اصولو له ټاکلو پورته لازمه ده چې لومړی اخلاقي مسایلو ته ورسیږو. ترکومه ځایه چې موږ پوهیږو هغه هیڅ ونه لیکل او ټول تعلیمات یې شفاهي القا کړل، له سقراطه د مخکې حکماوو هیڅ یو لیکنې هم مستقیماً تر موږ پورې نه دي رارسېدلي. د هغو فیلسوفانو په اړه اطلاعات چې موږ یې نوم واخیست په دوهم لاس منابعو او د نورو د آثارو په

ketabton.com - The Digital Library

خبرو پوری محدود دي.  په دی منابعو کی نسبتاً طولاني ليکنی او بعضی مستقيم اقوال هم ليدل کېدل. افلاطون د لرغوني يونان يوازينی عالم وو چی ليکنې يې اوس وخت له موږ سره شته دی د سقراط شاګرد وو، په حقيقت کی د سقراط په باب موږ ته رارسېدلي ډيری اطلاعات د همده له ليکنو اخيستل شوي دي. بی له شکه چی افلاطون د ټولو اعصارو او پيړيو د لويو فيلسوفانو له جملی او د ځينو په اند تر ټولو لوی فيلسوف وو، راځئ چی په دی اړه ډيرو مالوماتو لپاره له ميلاده ۳۹۹ کاله مخکی د سقراط د مرګ نيټه او د افلاطون د ليکنو د شروع وخت ته وګرځو.

کله چی سقراط مړ شو افلاطون يوديرش کلن وو او يو اتيا کاله واوسېد، په دغه نيمه پيړۍ کی يې په آتن کی د وخت د مشهورې مدرسې اکاډميا په تأسيس لاس پوری کړ، دا مدرسه د هغه څه لومړنی شکل وو چی نن ورځ يې موږ پوهنتون بولو په دغه وخت کی يې د هغه آثار هم وليکل، تقريباً ددغه آثارو ټول يې د خبرواترو او مکالمې په شکل ليکل شوي دي، او د بېلابېلو اشخاصو له لوري مختلف استلالونه پکی اورېدل کيږي چی يو پکې تقريباً هميشه سقراط دی، ټولې نه خو ډيری خبری د هغه کسانو په نامه دي چی له سقراط سره مجلس کوي، په دوئ کی يو فايدون دی، بل لاخس، بل ائوسوفرون، بل ثيای تئوس، بل پارمنيدس، بل تيمايوس او همداسی تر اخره... دغسی شل مکالمې زموږ په لاس کی شته چی ځينی يې د شل صفحو ځينی يې آن تر اتيا او يو دوه خو يې بيا تر دری سوه پاڼو پوری رسيږي. ددغه مکالماتي پارو مشهوری يې جمهوري او مېلمستيا دي چی ترجمی يې دا وخت د هرچا د لاسرسي وړ دي ¤، تر ټولو برجسته هغه يې نه يوازی د فلسفې ستر آثار دي بلکی د ادبياتو شهکارونه حسابيږي. افلاطون هم متفکر وو او هم هنرمند، او ليکنی يې هنري شکل او ډراماتيک ارزښت لري او ډيری علما بلخصوص په کيمبريج پوهنتون کی د

ketabton.com - The Digital Library


لرغوني فلسفي استاد پروفيسر مايلز برنبيټ په دی عقيده دی چی هيچا په يونان کی په دومره ښکلا او خوبۍ سره نثر نه دی ليکلی *.

---

* په خفګان سره بايد ووايو چی د افلاطون ليکنی په پښتو ژبه تر دی وخته نه دی چاپ شوي خو په فارسي يې بيا ټولی ليکنی ژباړل شوي او ځينی خو حتی مکرر هم چاپ شوي دي، په فارسي ليکوالانو کی خدای بښلی محمدعلي فروغي تقريباً لومړنی کس وو چی دده بعضی آثار يې فارسي ته وژباړل او ډاکټرحسن لطفي خو يې بيا د آثارو مجموعه فارسی ته وژباړله په اردو يې هم ليکنی په پراخه پيمانه موندل کيږي او همداسی زموږ د ګاونډ ټولو ژبو دغه برخی ته خاصه توجه کړی ده خو په پښتو کی دغه نيمګړتيا لا هم نيمګړتيا پاتی ده.

ketabton.com - The Digital Library

# ارسطو



زموږ نظر د لرغونی نړۍ د فلسفې متعلق ددوه فیلسوفانو تر شدید تاثیر لاندی ده. افلاطون او ارسطو. افلاطون لومړنی فیلسوف وو چی هغسی چی له خپل قلمه ښکلي دي تر موږ پوری رارسېدلي، او ارسطو دده په شاگردانو کی ترټولو برجسته شاگرد وو. هغه سلسله چی دلته ورسره مخامخ یو دده استثنا او ځانگړتیا ده، ارسطو د افلاطون شاگرد وو او افلاطون بیا د سقراط. پوښتنه دلته ده چی آیا ترنن ورځې بل داسی فیلسوف هم شته چی تاثیر یې تر دغه دری فیلسوفانو پراخ تللی وي؟

ارسطو د مقدونیې د پاچا د طبیب ځوی وو، له میلاده ۳۸۴ کاله مخکی په استاگیرا کی نړۍ ته راغی او د تحصیل لپاره اتن ته واستول شو، په اوولس کلنۍ کی یې د افلاطون د شاگرد په صفت اکاډمیا ته لاړ او د استاد ترمرگه ۳۴۷ق-م پوری پوره شل کاله هملته پاتی شو، بیا تبعید شو او د ځینی سیاسي دلایلو په وجه دولس کاله له وطنه لری اوسېده. په دی دوره کی ترډېره په څېړنه او چاپیریال پېژندنه بوخت وو (د یوې لنډی مودی لپاره د سکندرکبیر استاد هم پاتی شو)، بیا اتن ته راغی او د لوکئون په نامه مدرسه یې تأسیس کړه، دولس کاله همدلته پاتی شو، خو یوځل بیا مجبور شو چی د سفر بستره وتړي، خو یوکال وروسته یعنی له میلاده ۳۲۲کاله مخکی د دوه شپېته کلنۍ په عمر ومړ.

ketabton.com - The Digital Library

د ارسطو له پنځو دوه برخه آثار يې باقي پاتی دي، خو يوازی دا برخه آثار يې هم دولس جلده ته رسيږي. او دده د عصر ټول مالومات په بر کی نيسي، خو بدبختانه هغه ټول آثار چی ارسطو د نشر لپاره اماده کړي وو له منځه تللي، او هغه څه چی موږ يې نن ورځ په لاس کی لرو هغه ياداښتونه دي چی ده د تدريس لپاره برابر کړي وو، او د هغه ادبي هنر فاقد دي چی د افلاطون په ليکل شويو ياداښتونو کی ليدل کيږي. خو د هغه وخت د علومو، چاپيريال پيژندنی او منطق په برخه کی يې داسی ژور بنيادي کار کړی وو چی له ده وروسته يې تر زر کلونو پوری ساری نه وو. د منځنيو پيړيو اکثره فيلسوفان دده له نظرياتو اغيزمن ول، توماس اکويناس چی د منځنيو پيړيو غټ فيلسوف وو هرځای به يې غوښتل چی دده يادونه وکړي. ارسطو د يو بی تعصبه او انعطاف پذيره فيلسوف په توگه پيژندل کيږي چی فلسفه يې د انساني تجربې پيچلتياوو ته د رسيدگۍ د يوی دوامداره کوشش په توگه تلقي کوله، او تل په دی لټه کی وو چی گويا د انساني ژوند د پيچلتياوو لپاره به کومه بهتره لاره په خپلو افکارو کی ترلاسه کړي. ارسطو لومړنی غربي متفکر وو چی علوم يې تقسيم بندي کړل او رئيوس يې ورته وټاکل، د ځينی علومو نومونه چی اوس وخت کارول کيږي په اصل کی له همغه نه موږ ته رسېدلي دي، او تحقيقات يې تراوسه پوری هغو خلکو ته چی په دغه برخه کی کار کوي مهم دي، دده د ليکنو د يو جامع تحقيق په پايله کی مالوميږي چی په فلسفه کی د مابعدالطبيعه او ميتافزيک غوندی ښاخونو ايجاد ارسطو کړی دی هغه څه چی دی يې جوهر نوموي.

ketabton.com - The Digital Library

## د منځنيو پېړيو فلسفه

په سر کې به ووایو چې د غرب تاریخ په درې لویو دورو، پخوانۍ زمانه، منځنۍ پیړۍ او نوې زمانه باندې تقسیمیږي. په غربي فلسفه کې همدا رسم دی چې له پخوا منځنۍ او نوې فلسفې خبرې کوي، د فلسفې د تاریخ کتابونه هم چې چاپیږي په همدغه درې دورو باندې تقسیمیږي، او څنګه مو چې وویل په پوهنتونونو کې هم معمولاً په تدریس کې له همدغه برخه بندۍ نه استفاده کیږي.

په قدیمه فلسفه کې په افلاطون او ارسطو باندې غلبه ده خو له دوئ وروسته نور مهم او جالب د توجه وړ فلاسفه هم په قدیمه زمانه کې ول. خو متأسفانه چې ددوئ له هیڅ یو نه هم لیکنې باقي پاتې نه دي چې د کیفیت او کمیت له پلوه ددغه دوه فیلسوفانو له کار سره مقایسه شي. د افلاطون او ارسطو لاس په فلسفه کې دومره خلاص وو چې د لرغونې فلسفې د لوستلو لپاره باید هرڅوک پوهنتون ته لاړ شي، په پوهنتون کې هم د زده کړیال وخت صرف د همدغه دوه‌وو په آثارو مصرفیږي.

که له دې وروسته هم بیا څوک د فلسفې مطالعې ته ادامه ورکوي نو احتمالاً ويني به چې ورته ویل کیږي چې مستقیماً دې د ارسطو له فلسفې نوې یا جدیدې فلسفې ته لاړ شي، او ددغه جریان یو پاړکی (د منځنیو پیړیو فلسفه) شاته پاتې کیږي، خو د کومې دورې په اړه چې موږ خبرې کوو نږدې زرکاله فلسفه، یعنې د روم د امپراتورۍ له سقوطه تر رنسانس پورې موده په بر کې نیسي. او باید په خپګان سره وویل شي چې وروستي نسلونه د منځنیو پیړیو د فلسفې په مورد په شدت سره غافل پاتې شوي دي، او لوی علت يې هم شاید دا وي چې تقریباً ددغه دورې ټول معتبر فلاسفه دیني علماء او عیسوي کشیشان ول، او زموږ په دغه موجوده عصر کې د

ketabton.com - The Digital Library

مذهب په خلاف وسیع غبرگون او بلخصوص د حکمرانۍ په وړاندې یې پراخ مخالفت په افکارو باندې غالب دی. ددغه غبرگون په دوره کې د منځنۍ پیړۍ فیلسوفان د بدگمانۍ په پرده کې نغښتي دي خو دا له حقایقو سترگې پټول کیدای شي او مخکې له دې چې سړی پوی شي پیروي یې سړی کوم لور ته وړي ځان ترې تیروو او د تعصب په وجه یې نادیده نیسو چې دا غبرگون هم د نورو سموغبرگونونو غوندې له حده تجاوز کوي. د منځنیو پیړیو ستر فیلسوفان ریښتیا هم ستر اشخاص ول، او لکه نن چې موږ د فلسفې په اړه نیک نظر لرو دوئ هم کار ورته کړی او سړی یې له آثارو ډیر څه یادولی شي.



د منځنیوپیړیو په فلسفه کې هم د لرغونې فلسفې غوندې دوه فیلسوفان له نورو مخکې دي. ددې دوه اشخاصو یو یې ددغه دورې په لومړیو او دوهم یې په اواخرو کې ژوند کړی. لومړی یې قدیس آگوستین وو چې په ۳۵۴ میلادي کې په شمالي افریقا کې پیدا شوی وو، او که څه هم په خپل ژوند کې یې ډیر سفرونه وکړل خو بیرته په ۴۳۰میلادي په خپل ټاټوبي کې ومړ. دوه کتابونه یې د ټولو فیلسوفانو په تصدیق د نړۍ له سترو کتابونو دي چې یو یې (اعترافات) او دوهم یې (دخدای ښار) نومیږي. دوهم شخصیت هم د مقام له نظره ترده کم نه دی یعنې توماس آکویناس، دی په ۱۲۲۵میلادي کې په ایټالیا کې پیدا شو او په ۱۲۷۴م کې وفات شو، د اکویناس فلسفه له فني اړخه تر آگوستین پخه ده، او مشهور آثار یې د شاگردانو لپاره دوه مجموعې دي: یوه مجموعه

ketabton.com - The Digital Library

يې د کافرانو په رد چې ( د کاتولیک مذهب حقانیت) په نامه ده او دوهمه مجموعه یې د کلام د علم په نامه.

د آگسټین له مرگه او د روم د امپراتورۍ له سقوطه وروسته هغه دوره شروع شوه چې نن ورځ ورته توره دوره ویېل کیږي. له دوئ وروسته همدومره باسوادان او فاضلان پاتی ول چې د مشرکو اقوامو د تجاوز په سلسله کی خپله ټولنه محفوظه وساتي په دغسی وضعیت کی پوهانو او لوستو صرف حفاظتي او ساتونکی جنبه درلودله، او تر مودو مودو پوری هیڅ علمي مهم اثر منځته رانغی.

د آگسټین او آنسلم ترمنځ په اووه سوه کلنه موده کی یوازی یو فیلسوف پیدا شو او هغه جان سکاټلنډي وو چې په نهمه میلادي پیړۍ کی یې ژوند کاوو خو کله چې په یوولسمه میلادي پیړۍ کی آنسلم ته رسیږو نو د متفکرانو د یوی مهمی سلسلې شاهدان یو چې په تیزۍ سره د یو بل ځایناستي کیږي، لکه په دولسمه پیړۍ کی آبلار، راجربیکن، په دیارلسمه پیړۍ کی توماس آکویناس او بیا ډانزسکوټوس، ویلیم آکمی. چې له ظهور سره یې ورو ورو منځنۍ پیړۍ پای ته ورسیدی.

ketabton.com - The Digital Library

## ډيکارټ



معمولاً د نوی فلسفې اصطلاح په پوهنتونونو کی کارول کيږي، له قديمي فلسفې او منځنيو پیړیو له فلسفې ددی فلسفې بېلوالی عبارت دی له: ددين د اصلاح له وخته شروع فلسفه تر نن ورځې پوری. څوک چی عموماً د جديدی فلسفی بنسټ ايښودونکی دی هغه ډيکارټ دی، نو په روښانه عبارت، د د جديدی فلسفې اصطلاح يعنی له ډيکارټه وروسته فلسفه.

ډيکارټ په ۱۵۹٦ کی په فرانسه کی نړۍ ته راغی او فوق العاده ښه تحصيلات يې وکړل، خو د يو ځانګړي او مستقل فکر خاوند کس هم وو، تر اوسه يې درس وايه چی متوجې شو هغه مشران چی خبری يې حجت حسابيږي غالباً غلط استدلال کوي، په ځوانۍ کی نظام ته ننوت او د اروپا مختلفو نقاطو ته يې سفرونه وکړل، لېکن هيڅکله جبهې ته نه ولاړ، ډير زر يې دی خبری ته پام شو چی د ژوند صحنه هم د کايناتو د کتاب غوندی له تضاد او تناقض نه سرشاره ده، او دا مسئله يې تر توجه لاندی ونيوله چی آيا لار شته چی انسانان وکولی شي له هغی لاری په يو څه شي يقين پيدا کړي. او که شته نو دا لار څه رقم ده. له دی وروسته ډيکارټ له سفره لاس واخيست او په هالنډ کی چی فکري حيات هلته تر بل هرځايه آزاد وو ګوښه نشين شو. او تر شلو کلونو يانی له ۱٦۲۹ نه تر ۱٦۴۹ پوری يې په رياضياتو او فلسفه باندی آثار وليکل چی په عمق او اصالت کی يې ساری نه درلود، او همدا راز يې په

ketabton.com - The Digital Library

علومو هم ډير تحقيقات وکړل، فلسفه او علوم تر دغه وخته جدا نه بلل کېدل او تر اتلسمې پيړۍ پورې ناتفکيک شوي پاتې شول. په رياضياتو کې د تحليلي هندسې مشهوره څانگه د ډيکارټ ابداع وه.

د ډيکارټ مشهور آثار دوه دي چې يو يې (دعقل په لاره) او دوهم يې (په فلسفه اولې کې تأملات) نوميږي. لومړی اثر يې په ۱٦۳۷ کې خپور شو او دوهم يې په ۱٦۴۲ کې.

ډيکارټ هيڅکله واده ونکړ خو نامشروع لور يې لرله چې په پينځه کلنۍ کې مړه شوه او مرگ يې دده لپاره ستره عاطفي ضربه وه، هغه تل ډير لوکس لباس اغوست او ښودله يې چې د پوځ افسر دی خو تل يې د ننگياليو خلکو په نسبت د پوهانو مجلس ته ترجيح ورکوله، خو په هغه کلونو کې چې د اخلاقو د فلسفې په ليکلو بوخت وو له چاسره يې ناسته پاسته نه لرله او منزوي ژوند يې کاوو، په دري پنځوس کلنۍ کې يې د ملکې کريستينا په غوښتنه چې دی پرې راضي نه وو سټکهولم ته لاړ څو ملکې ته د فلسفې درس ورکړي خدا مرگونی خطايي وه ډيکارټ په ژمي کې په ذات الريه مبتلا شو او يو کال وروسته په ۱٦۵۰م کې ومړ.

ketabton.com - The Digital Library

## سپینوزا او لایب نیټس



له ډیرو مودو رسم داسی وو چی د غرب فلسفه د اولسمې او او اتلسمې پیړیو په جریان کی په دوه مخالفو مکتبونو تقسیم کړي، د تجربې د اصالت مکتب په انگلستان کی او د عقل د اصالت مکتب په ټوله اروپا کی. لاک، بارکلي او هیوم یې لوی تجربیان پیژندل او ډیکارټ، سپینوزا او لایب نیټس یې لوی عقلیان. ددوئ ترمنځه د ډیرو مسایلو ترمنځ مهمه اختلافي مسئله دا وه چی بشر له ذهن، او محض عقل نه په استفاده په دی توانیږي چی د کایناتو شناخت وکړی شي خو تجربیان بیا له دی خبری منکر ول، او ټینگار یې کاوو چی تجربه د هر هغه څه لپاره چی واقعاً وجود لري له ضروري عناصرو څخه ده، نو ضرور ده چی هر شناخت په یو نه یو قسم له تجربې منشأ واخلي. بلاخره دغه دوه مخالف مکتبونه د اتلسمې پیړۍ په اواخرو کی د ایمانویل کانت په فلسفه کی سره یوځای شول.

په دی بحث کی غواړو چی په سپینوزا او لایب نیټس وغږیږو چی له ډیکارټ وروسته ستر عقلي فیلسوفان ول، د وخت له نظره سپینوزا له لایب نیټس نه لږ مخکی وو، او په ۱۶۳۲م کی په امسټرډام کی نړۍ ته راغی، کورنۍ یې د پرتگال د یهودانو له نسله وه، چی وروسته د اسپانیا د عقایدو د تفتیش په دوره کی د دیني آزادۍ په لټه هالینډ ته راغلي ول، سپینوزا سره له دی چی په یهودي کورنۍ کی پیدا شوی او پالل شوی

ketabton.com - The Digital Library

وو خو له ديني رواج پرستۍ نه يې بغاوت وکړ، او په څليريشت کلنۍ کې يهودي مراجعو تکفير کړ، خو له نيکه مرغه هم د خوی او اخلاقو او هم د وضعيت او احوال په وجه دی خپله تنهايئ ته متمايل وو او ددی لپاره چې کار ته ورسيږي انزوا يې اختيار کړه، او حتی د هايډلبرگ پوهنتون لخوا يې د استادۍ پيشنهاد هم رد کړ او د خپلو عينکو، مايکروسکوپ او ټيليسکوپ لپاره د عدسيو په تراشلو بوخت شو. او همدغه هره ورځ له شيشی سره سروکار د سږو په مرض اخته کړ چې بيا په څلورڅلويښت کلنۍ کې د همدغه تکليف له امله ومړ. د ټولو په تصديق د سپينوزا شهکار اثر اخلاق نوميږي چې په سراسر فلسفه بحث کوي او په ۱٦۷۷م کال يانی دده د مرگ په کال دده له مرگه وروسته نشر شو. ددی کتاب يوه جالبه ځانگړنه داده چې مستقيماً د اقليدس د هندسې په سبک ليکل شوی دی، يانی له څو متعارفي او مفهومي لومړنيو اصولو پيليږي او د قياسی منطق له لاری د قضيو د پرلپسی اثبات جريان شماره گذاري کوي او همداسی د ټولی عالم هستۍ نقشه تشکيلوي. دا کتاب غالباً د فلسفي نظام تر ټولو ستره نمونه ده چې مقصد يې د ټولو مسايلو روښانتيا ده.

د سپينوزا له مرگه يو کال مخکی دده او لايب نيټس يانی زموږ د بحث دوهم فيلسوف ترمنځه د ملاقاتونو سلسله شروع شوی وه، چې ددوه سترو فيلسوفانو د مخامخ ملاقاتونو نادره سلسله يې بللی شو. لايب نيټس د سپينوزا بلکل بالعکس شخصيت درلود، درباري، ديپلومات او هميشه په سفر کی وو په ډيرو هيوادونو کی يې افتخارات گټلي وو او له دی مخکی هم په فرهنگي اړخ کی يو لوی کس شميرل کيده چې په متعددو علومو باندی حاکم وو. جنبشي انرژي (سينټيک) ده وضع کړی وه، بی له دی چې خبر شي نيوټن هم په دی کار لاس پوری کړی، د جامع او فاضل حساب (انټيگرل

ketabton.com - The Digital Library

او ډیفرینسیل) ابداع یې وکړه او په دی باب یې لیکنی تر نیوټن مخکی خپری شوی او موږ یې تر نن ورځې له نظریاتو استفاده کوو، له دی پرته لایب نیټس یو لوی فیلسوف وو.



لایب نیټس په ١٦٤٦م کال په لایپزیک کی نړۍ ته راغی او په هانوور کی ومړ. د تحصیل په موده کی یې داسی استعداد او هوښ له ځانه وښود چی به یویشت کلنۍ کی د پوهنتون د استادۍ پېشنهاد ورته وشو خو ده هم د سپینوزا غوندی دا پیشنهاد رد کړ، خو یوازی د رد دلایل سره بیل وو ځکه لایب نیټس غوښتل چی نړیوال شي، ډیر عمر یې د هانوور د دوکانو په خدمت کی تیر کړ او یو له همدغه دوکانو وو چی وروسته بیا د لومړي جورج په نامه د انګلستان پاچا شو. لایب نیټس هر هغه کار چی یو سړي فکر کاوو چی باید شوی وای کاوو، په همدی وجه یې خپل فلسفي آثار په فارغ وخت کی لیکل. لیکنې یی ډیری دي خو لیکنی یې د لنډو مقالو په شکل لیکل شوي دي تقریباً هیڅ یو اثر یې دده په ژوند نه دی نشر شوی. په دی سربیره یې له ډول ډول خلکو سره په مختلفو هیوادونو کی مکاتبه کوله هم ددغه مکاتباتو حجم او هم یې محتوا له فلسفي اړخه د توجه وړ ده. دده له غښتلو آثارو یې (مونادولوژي) او (په مابعدلطبیعه بحث ) دی، یو بل مهم کتاب هم لري چی (د انساني فهم په باره کی نوي تحقیقات) نومیږي او تقریباً نکته په نکته یې پکی له خپل همعصر مخالف فیلسوف جان لاک سره بحث پکی کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library

## جان لاک او بیرکلي



نړۍ چې تراوسه کوم پرنفوذه فیلسوفان لیدلي دي په هغوئ کې یو هم جان لاک انګلیس (متولد ۱٦۳۲م) دی، عموماً عقیده داده چې د لیبرال دیموکراسۍ او د عصري تجربوي فلسفې بنیاد ده ایښې دی. لاک تجربه اصل بللی دی او فکر کوي چې زموږ برداشتونه اصلاً ممکن نه دي چې د تجربې له پولو کامل تیر شي او زموږ په تصوراتو کې ځای شي. ډیرو زیاتو فیلسوفانو له لاک نه وروسته هم دا اعتقاد په مختلفو شکلونو منلی دی، او په نړۍ کې خو انګلیسي ژبي هیڅکله نه دي توانیدلي چې تر اوږدې مودې ددې فکر له تسلط نه ووځي. د تجربوي فلسفې خیره تر دې حده روښانه وه چې تراوسه د ډیرو خلکو په ذهن کې واضحه، بدیهي او د شعور په حکم کې عادي ده، او کله خو به چې پخپله د لاک په خوله بیانیدله نو به یې نتایج بیخي انقلابي ول، که به په فلسفه کې وو، که به په طبیعي علومو کې او که به په سیاست کې وو د لاک د ویناوو یوه برخه به همیشه دا وه چې ( په ړندو سترګو هیڅکله د چا د عرف او عاداتو پیروي مه کوئ، حقایق په نظر کې ونیسئ او خپله فکر پرې وکړئ). دا فکر د سیاست په نړۍ کې خپله یو انقلابي حیثیت لري، په فرانسه کې یې د وولټر او د دایرة المعارف د ملګرو په اذهانو بیخي ژور تاثیر وکړ د فرانسې له انقلابه مخکې یې د یو مسلط عامل په توګه فکرونه تنظیم کړل. د امریکې د بنیادګزارانو به مسلسل لاک مدنظر وو او د

ketabton.com - The Digital Library

اساسي قانون د تدوين په وخت يې د قوانين د لاک د نظرياتو په سيوري کی جوړ کړل چی د استقلال اعلاميه يې د تاثير بهتره بېلګه ده.

لاک د ويسټ مينسټر په مدرسه کی (چی په هغه وخت کی احتمالاً په ټول انګلستان کی بهترينه مدرسه وه) او د اکسفورډ په کرايسټ چرچ کالج کی درس ولوست، او په همدی ځای کی يې تر پينځه ديرش کلنی پوری تدريس ورکړ. همداراز يې د طبابت صلاحيت او جواز ترلاسه کړ او له پوهنتوني ژوند وروسته سياست او طبي تحقيقاتو ته ننووت (کله چی ژوندی وو نو اکثراً به د ډاکټرلاک په نامه هم يادېده)، په هغه اړودوړ کی چی انګليسانو (سرلوړی انقلاب) باله لاک مجبور شو چی د ځان د ساتنې لپاره هالنډ ته پنا يوسي او يو له هغو لومړنيو انګليسانو وو چی په ويليم اورنج پسی د سټوراټ سلسلې د پرځولو لپاره انګلستان ته ستون شو. له دی مخکی کلونه د خپلې ليکنی (د انساني فهم باره کی تحقيق) په تکميل بوخت وو چی په فلسفه کی يو شهکار بلل کيږي. دا ليکنه په ١٦٨٩م کی کله چی لاک اوه پنځوس کلن وو نشر شوه، خو په پښتی يې ١٦٩٠م ليکلي دي نو شايد د همدی اشتباه له امله يې د نشر کال دا ښودل کيږي. له دی وروسته يې هم تر ١٦٩٣م پوری څو کتابونه وليکل. لاک دوه اويا کاله عمر وکړ او نور څه يې هم وليکل او نړدی ټولی ليکنی يې د پينځو کلونو په دوران کی خپری شوی.

له لاک وروسته بل انګريزفيلسوف چی نړيوال شهرت لري جورج بيرکلي دی، بيرکلي ډير ځايونه له لاک سره غبرګون هم ښودلی خو له دی سره سره بهتره ده چی په دواړو يوځای بحث وکړو.

ketabton.com - The Digital Library

بیرکلي په ۱٦۸۵م کال په ایرلېنډ کی پیدا شو، او د ډوبلین ښار په ترینایټي کالج کی یې درس ولوست، او ټول آثار یې چی په فلسفه کی یې نن ورځ د شهرت مایه ده د عمر د شل او دیرش کلنی ترمنځ نشر ته وسپارل لکه ( د بینایۍ جدیده نظریه) او (دانساني معرفت اصول). ځینی نور آثار یې ددی مستحق دي چی لاښه وپېژندل شي، خو هغه آثار چی دده د شهرت لامل شوي دي همدغه دي چی پورته مو ذکر کړل. بیرکلي په ۱۷۳۴م کی د مذهبي پېشوا مقام ته ورسېد او تر نن ورځې پوری غالباً د همدغه لقب یادیږي. د ژوند ډیره برخه یې به ټولنیزو فعالیتونو او یوه عمده برخه یې په نوی نړۍ (یانی امریکا) کی تیره شوه. د ییل په پوهنتون کی یو کالج هم دده په نامه دی او په کلیفورنیا کی د بیرکلي ښار هم دده په نامه نومول شوی، بیرکلي په ۱۷۵۳م کی ومړ او جسد یې د اکسفورډ په کریسټ چرچ کالج کی دفن شو کوم چی مخکی د لاک کالج وو او زوی یې هم دغلته تحصیل کاوو.

ketabton.com - The Digital Library

## ډيوېډ هيوم



هغه ستر فيلسوف چې خپل ټول آثار يې په انګليسي ليکلي خو دی انګليس نه وو بلکې سکاټلنډی وو ډيوېډ هيوم نوميږي، په کال ۱۷۱۱م په ايډينبرو کې نړۍ ته راغی. هيوم د خپل کار بهترين آثار هغه وخت وليکل چې کله دی ځوان وو، په اتلس کلنۍ کې يو ډول عقلي مکاشفې لاس ورکړ او اته کاله يې له دی وروسته د يو غټ او انقلابي کتاب (د انساني طبيعت په باب رساله) باندی مصرف کړل، خو له ډير سست او کمزوري غبرګون سره مخ شو لکه چې دی پخپله وايي (له چاپخانې مړی پيدا شوی وو)، هيوم د ديرش او څلويښت کلنۍ په عمر کې يو ځل بيا کوشش وکړ چې تير جبران کړي او خپل ياد کتاب په نوي شوق په نسبتاً کوچنيو دوه جلدونو کې بيا خپاره کړل چې يو يې (دانساني فهم باره کې تحقيق) او بل يې (داخلاقو د بنسټ په باب تحقيق) نومېدل خو دا ځل يې هم د تير کتاب په څير يخ استقبال وشو او نور نو ظاهراً هيوم فلسفې ته شا کړه. د عمر د څلويښت او پنځوس کلونو په منځ کې يې د بريتانيې د تاريخ په باب کتاب وليکه چې تقريباً تر يونيم سل کلونو پورې په خلکو کې محبوب وو او د تاريخ د استناد په توګه به تاريخپوهانو ګټه ترې اخيسته، او په همدی وجه يې نن ورځ کله کله خلک د مؤرخ په لقب هم يادوي، د خپل حيات په موده کې يې د يو اقتصاددان په توګه هم په خلکو

ketabton.com - The Digital Library

کی تاثیر درلود او کله چې د کرنسۍ خبره راپورته شوه نو د هیوم نظریات پکی یوځل بیا مرکزي رول ولوباوو، همدا راز د دولتي امورو په برخه کی یې هم کافي پوهه لرله، د انگلستان او اتریش په جگړه کی یې د لوړپوړي افسر په دنده خدمت هم کړی، یوه موده یې په پاریس کی د برطانیې د سفیر او وروسته بیا د بهرنیو چارو وزارت مرستیال شو.

هیوم مختلفو محافلو ته تگ راتگ درلود، او هر چېرته د خپلی خوشطبیعتۍ او نبوغ په وجه محبوب وو، د دوستۍ لپاره یې داسی کمساری استعداد درلود چی کولی یې شول د فرانسوي همعصره فیلسوف ژان ژاک روسو ملگری هم شي، حتی یو وخت خو روسو غوښتل چی د هیوم د شتون په وجه په انگلستان کی ژوند وکړي، په فرانسه کی هیوم په (le Bon David) مهربان ډیوډ مشهور وو، او په پلرني ښار ادینبورو کی خو دده د اوسېدنی واټ د پاک ډیوډ په واټ مشهور وو. داسی القابو ته په پام سره شاید دا د روزگار یوه لوبه وه خو هیوم به د خپل وروستي فلسفي شهکار په لیکلو بوخت وو یعنی په فطري دین باندی ژور او ټومبونکی نقد کول غوښتل چی له مرگ مخکی یې په اړه څوک نه پوهیدل. هیوم په کال ۱۷۷٦م کی ومړ، او کتاب یې ( د طبیعي دین په اړه څو خبری اتری) چی د ځینو په نظر دده بهترین کار وو په ۱۷۷۹م کی چاپ شو.

هیوم ډیر جذاب او زړه راښکونکی شخصیت لري او همدا راز باید دی په ادینبورو کی د اتلسمې پیړۍ د هغه فکري او عقلي خوځښت عامل هم وبولو چی اوس یې موږ د (دسکاټلنډ د روښنفکرۍ غورځنگ) په نامه پیژنو، هغه نهضت چی په ترتیب سره یې ستر فیلسوفان ستر اقتصادپوهان ستر انگلیس ژوندلیکونکي، ډیویډهیوم، ایډم

ketabton.com - The Digital Library

سمیت او جیمز بازول راوټوکول. دغه دریواړو کسانو یوبل پېژندل، ایهم سمیت خو د هیوم یو له صمیمي دوستانو څخه وو چې ډېر سخت د هغه ترتاثیر لاندی وو، بازول غوښتل چې د هیوم ژوندلیک ولیکي خو افسوس چې هیڅکله په دی کار بریالی نه شو.

ketabton.com - The Digital Library

# کانټ



ایمانویل کانټ هغه کس وو چې فیلسوفان یې یو داسې شخص بولي چې د لرغوني یونان له وخته تر نن ورځې پورې یې سیال نه دی پیدا شوی، کانټ په ۱۷۲۴م کال په ګونیګسبرګ کې وزیږید او همالته تر نژدې اتیاکلنۍ پورې واوسېد او په۱۸۰۴م کې ومړ، دده باره کې ډېرې خبرې کیږي لکه چې وايي کانټ هیڅکله له کونیګسبرګه بیرون ونه ووت او د عمر تر وروستۍ شېبې پورې یې له خپل ټاټوبي بهر پښه کینښوده، همدا راز وايي چې دی د خپل ورځني ژوند د تقسیم اوقات سخت پابند وو چې د کونیګسبرګ خلکو په اسانۍ کولی شول ساعتونه یې د عبور په وخت د خپل کور له پنجرو نه وشمېري. کانټ هیڅکله واده ونکړ او ژوند یې ظاهراً بلکل آرام او بې حادثې تیرېده. خو هیڅکله هغه وچې لرګی هم نه وو چې پورته مو تشریح کړه، یانې نسبت نورو خلکو ته نیکخویه، نیک لباسه، په محاوره کې دروند او نکته سنج وو. په کونیګسبرګ پوهنتون کې چې له دیرش کاله زیات یې هلته استادي لرله د تدریس په وخت یې ښکلې بیان درلود او په درسونو کې یې لاس ډېر خلاص وو.

حیرانوونکې ده چې کانټ لومړنی سترمعاصر فیلسوف وو چې په پوهنتون کې یې تدریس کاوو، ډیکارټ، سپینوزا، لایب نیټس، جان لاک، بیرکلي او هیوم هیڅ یو د فلسفې درس نه ورکاوو، حتی تر یوې بلې پیړۍ یانې تر نولسمې پیړۍ پورې هم همدا دستور وو، یوازې بارز شخص هیګل له دې مستثنی وو خو شوپنهاور،

ketabton.com - The Digital Library

کارکیګور، کارل مارکس، جان سټوړټ میل او نیچه هیڅ یو پوهنتوني فیلسوف نه وو. نیچه خو حتی پوهنتون خوشی کړ څو فیلسوف شي، په جدید عصر کی، کله چی نولسمې پیړۍ ته رسیږو وینو چی تقریباً ټول ستر فلاسفه پوهنتونیان دي، دا بیله خبره ده چی وویلی شي چی آیا د فلسفې مسلکي کېدو لپاره همدا طرز ښه دی که نه. یادا چی له دی لاری تیرېدل نشته.

بیرته ورګرځو د پوهنتون یو ستر او لومړني استاد ته، د کانت د ځوانۍ او د ژوند د منځنیو وختونو لیکنو هغه ته ډیر شهرت ورکړ، خو نن ورځ دده هیڅ اثر پرته له ډیرو کمو کسانو لوستونکي نه لري، دده ځینی لیکنی وی چی اووه پنځوس وروسته یې په تدریج نشر شوی او انتشار یې همداسی تر اویا کلنۍ وروسته هم ادامه درلوده. دا وخت دی یو ډیر عجیب کار وکړ او هغه دا چی د عمر په وروستۍ موده یانی زړښت کی یې یو کتاب ولیکه چی د ټولو په تصدیق د کانت شهکار د هغه همدا کتاب دی چی (په محض عقل نقد) نومیږي، چی په ۱۷۸۱م کی چاپ شو او په لومړي سر کی څوک ښه پری پوه نه شو، په دی وجه کانت دوه کاله وروسته ددغه کتاب محوري مباحث په یو کوچني جدا جلد کی چی (سریزه) یا تمهیدات نومیده چاپ کړه، او څه موده وروسته یې بیا په تدریج سره په نورو کتابونو کی د خپل شهکار مباحث تشریح کړل. همدا راز یې یو بل کتاب (دمابعدالطبیعه اخلاقو بنیاد) هم ولیکه چی په ۱۷۸۵م کی نشر شو او له هغه وخته تر نن ورځې پوری په اخلاقي فلسفه لوی تاثیر لري.

ketabton.com - The Digital Library

## هیگل او مارکس



د هیگل غوندی کم فیلسوفان به وي چی په واضحه يې د نړۍ مخ بدل کړی دی، هم خپله يې د المان په نشنلیزم باندی تاثیر پریښی دی او هم يې غیرمستقیم د خپل مرید کارل مارکس ( چی زموږ د عصر ډیر حکومتونه يې نوم د ځان د وصف په توګه کاروي) د مشهورو آثارو په مټ نړیوال خطوط په خپل ځان پسی راښکلي دي. نو که وغواړو چی په نړۍ د هیګل تاثیر ووینو نو خپل چاپیریال ته دی وګورو. هیګل د نړۍ د سیاسي حالاتو ترڅنګ په فلسفه هم همدومره سترتاثیر لري لکه چی وايي د فلسفې تاریخ له هیګل نه تر اوسه پوری، ممکنه ده چی دده د آثارو په مورد به رنګارنګ عکس العملونه وي.

ګیوریګ ویلیم فریدریش هیګل په ۱۷۷۰م کال په اشتوتګارت ښار کی نړۍ ته راغی او د عمر ډیره برخه يې په تدریس تیره کړه لومړی په هایډلبرګ او بیا په برلین کی د فلسفې استاد شو. هیګل فلسفی ته ډیر وروسته راغی خو کله چی په ۱۸۳۱م کی وفات شو نو په سراسر المان کی تکړه فلسفي وو، د څه مهم او پرنفوذه آثار يې (د ذهن پدیده، د منطق علم، د حق فلسفه، د تاریخ فلسفه).

د هیګل څوتنه پیروان خپله هم مشهور شول خو ددی یو شهرت هم کارل مارکس ته نه رسیږي، مارکس په ۱۸۱۸م د المان په ټرایر ښار کی وزیږید، او په ځوانۍ کی هغه

ketabton.com - The Digital Library



وخت چی فلسفه يې لوستله د هیگل ډیر سخت تاثیر پری وشو، خو تر هغی سوسیالست وو چی ترځو يې په پینځه ویشت کلنۍ کی فلسفه له المانه، سیاست له فرانسې او اقتصاد له انگلستانه ترلاسه کړ، او په خپلو کی يې مخلوط کړ او یو قوي نچوړ يې تری راوویست چی نن ورځ په مارکسیزم مشهور دی. په ۱۸۴۸م د یو پیسه دار کارخانوال په موافقه چی فریدریش انگلش نومیده يې د کمونست بیانیه ولیکله. شاید د عقایدو او افکارو په تاریخ کی بله هیڅ همکاري دومره د اهمیت وړ نه وي لکه د مارکس او انگلش چی ثابته شوه، ددی لپاره چی مارکس د لیکلو قابل وي انگلش د عمر د ډیری برخی معاش ورکاوو، مارکس د ژوند ډیروخت د ځینی سیاسي فعالیتونو په وجه له وطنه جدا تیر کړل، په یودیرش کلنۍ کی لندن ته لاړ او تر مرگه یانی تر ۱۸۸۳م پوری هملته پاتی شو، او قبر يې د های گیټ په مقبره کی دی، اوږده کلونه يې په مطالعه او کار باندی د برتانیې په قرأت خانه کی تیرکړل او همدغلته وو چی شهکار يې (دسرمایې کتاب) ولیکه چی په ۱۸٦۷م کی نشر شو. مارکسیزم په خپله د فلسفې د منل شوی کلمې په مانا نه ده لیکن ښکاره ده چی د فلسفې عمده عنصر برخه پکی لري او دغه عنصر همیشه هیگل وو.

ketabton.com - The Digital Library

# شوپنهاور



ممکنه ده فکر وکړو چې هغه یوازینۍ رشته چې د ورځنۍ سلیقې له زیږیدلو هوسونو نه تابعیت نه کوي فلسفه ده، خو داسې نه ده، په فلسفه کې هم د بشر د نورو فعالیتونو غوندې ظاهراً هر نسل د تیر نسل په کړنو غبرگون ښیي چې په نتیجه کې یې هغه لیکوالان چې آثار یې ډیر لوستونکي لري له پامه لویږي او نوی څیرې راځلیږي، ددې کار حاصل دا وي چې په هر معین وخت او سیمه کې یوڅه کسه د گوتو په شمار خلک مشهور شي او د مطالعې پام ورته ورگرځي او تیر مشهور خلک له پامه غورځي خو یو وخت بیاځل داسې راځي چې همغه هیرو شوو خلکو آثار د اړتیا له مخې خلک میدان ته راباسي او آثار یې بیا په اصطلاح بابیږي او دا پروسه همداسې روانه وي.

د هغو فلاسفه‌وو له منځه چې په دې سرنوشت اخته وو یو یې هم شوپنهاور دی چې د عمر ډیره برخه یانې د نولسمې پیړۍ لږ ډیر له پامه وغورځېد خو د همدغه پیړۍ په دوهمه نیمایي کې یوځل بیا د نومیالیو او پرنفوذه فلسفیانو مقام ته ورسېد. خو د شلمې پیړۍ په لومړیو کې بیا داسې کلک هیرشو چې د فلسفې د استادانو لپاره یې آثارو نور د مطالعې ارزښت نه درلود، خو دادې زموږ په عصر کې ددغه سترفیلسوف آثار بیا د توجه وړ گرځېدلي دي ددې علتونه ډیر دي خو موږ راځو بیرته خپلې اصلي خبرې ته.

ketabton.com - The Digital Library

آرتورډ شوپنهاور په ۱۷۸۸م کی په ډینزیګ یا اوسني ګوډینسک کی زیږیدلی، کورنۍ یې څونسله مسلسل د هغو پیسه دارو تجارانو له جملی نه وه چی په هانزای مشهور ول. شوپنهاور هم د نړیوال تجارت مسیر ته د داخلېدو لپاره روزل شوی وو نه د علمي او تحقیقاتي زوند لپاره. خو ده له کورنیز تجارت سره مینه نه درلوده او په ډیر ټینګار پوهنتون ته لاړ او باقي عمر یې د هغه بودیجی په مټ چی لرله یې په مستقلو مطالعاتو او لیکلو تیر کړ. دده د ډاکټرۍ تیزیس هم نن ورځ د یو کلاسیک اثر په توګه ارزښت لري، شوپنهاور تراوسه دوه یا درویشت کلن وو چی هوډ یې وکړ څو شهکار (نړۍ د ارادی او نمایش غوندی) ولیکي. دا لیکنه په ۱۸۱۸م هغه وخت چی ده پینه دیرش کلنۍ ته کېښوده منتشر شو، له دی وروسته تر دوه اویا کلنۍ پوری شوپنهاور پریمانه آثار نشر کړي دي، همدا راز یې د مقالو مجموعه چی تفننات او متممات نومیږي او دوه نور کوچني د اخلاقو کتابونه چی د اخلاقو اساس او د ازادۍ اراده نومیږي هم خپاره شول، یو بل کوچنی کتاب هم لري چی دطبیعت اراده نومیږي، په دغه کتاب کې یې غوښتل وښیي چی جدید علمي اکتشافات دده د فکر زیږنده ده، خو دده په لیکنو کی تر ټولو مهم تحریر چی وو هغه (نړۍ د ارادی او نمایش غوندی) اثر دوهم ځل چاپ وو چی د لومړي اثر دوه برابره حجم یې درلود او په ۱۸۴۴م کی منتشر شو.

شوپنهاور د څو ځانګړنو له امله جالب وو، آثار یې بلافاصله د کانت له آثارو وروسته راځي، او د غربي فلسفې په اصل جریان کی خاص ځای لري. له هندو او بودایي آیین نه ډیره ښه اطلاع لري او یواځینی غربي فیلسوف دی چی د شرقیانو او غربیانو د افکارو ترمنځ مهمو او پرمعنا مشابهتونو ته اشاره کوي، له دی هاخوا، دی لومړنی ستر غربي عالم دی چی په ښکاره او صراحت سره د خدای له وجود نه انکار کوي،

ketabton.com - The Digital Library

له شوپنهاور پرته هیڅ بل ستر فیلسوف د هستۍ په نظام کی هنر ته دومره ستر مقام نه اختصاصوي په همدی وجه د نورو ټولو فیلسوفانو په نسبت په جدید عصر کی د هنرمندانو ترمنځ دی ډیر محبوبیت لري، خپله د الماني نثر له بهترینو استادانو څخه دی خو باید ووایو چی د شوپنهاور فلسفه، نثر او نور آثار دومره عمیق دي چی په ډیره مشکله سړی کولی شي ژورو ته یې ورسیږي.

ketabton.com - The Digital Library

# نیچه



هر فهرست چی د نولسمې پیړی د فلسفې له حوزی دباندی تاثیرلرونکیو فیلسوفانو نومونه ذکر کوي باید د هیګل، مارکس، شوپنهاور او نیچه له نومونو خالي نه وي، په اروپا کی له انګلستان نه په استثنی سره نیچه په فلاسفه‌وو هم بیحده تاثیر درلود، لېکن تر څه موده مخکی پوری یې له انګلیسانو یوازی عناد او بدګماني لیدلی ده خو په نوره نړی کی داسی احساسیږي چی د نیچه آثار یوه خاصه توجه حاصلوي لګیا ده، او تازه وینو چی د ژبې د تحلیل اهل فلاسفه یې د آثارو کتلو ته متوجې شوي دي. البته نیچه په ادیبانو همېشه ژور تاثیر لرلی دی چی په هغی جملې کی د انګلیسي ژبی مشهور لیکوالان لکه برناردشو، انګلیسي شاعر ویلیم بیټلرییټز او مشهور شاعر او رومان لیکونکی ډي ایچ لاورینس هم راځي. نیچه په نثر کی هم ښه وو او د نړی په ډیرو ژبو یې نثر ژباړل شوی دی.

فریدریش نیچه په ۱۸۴۴م کال د المان په ساکسوني ایالت کې نړی ته راغی، په پوهنتون کی د یونان او لاتین د ژبی او معارف په پوهه کی فوق العاده وځلېد، او تر اوسه ترڅوویشت کلنی نه وو رسېدلی چی د پوهنتون د استادی څوکی ته ورسېد هغه څه چی په هغه زمانه کی بیساری وو. خو وروسته یې تدریس او پوهنتون ته شا کړه یوازیتوب یې غوره کړ او فیلسوف شو. شپاړس کاله یې لیکل وکړل او ډیری لیکنی یې کوچني کتابونه دي یا مقالې او ویناوی دي. پېژندل شوي کتابونه یې (انسان او

ketabton.com - The Digital Library

تراژيدي، انساني خاکه، له نيک او بد هاخوا) او د اخلاقو نسب دي. او تقريباً مشهور کتاب يې زرتشت دی، دی په لومړي سر کی د شوپنهاور او واگنر له نظرياتو ډېر اغيزمن وو. خو وروسته يې له دواړو زړه تور شو او داسی حد ته ورسېد چی بعضې مشهورې جدلنامې يې د واگنر خلاف وليکلی.

نيچه د ژوند د خلاقيت د دورې له څلورو کلونو زيات د فکري وحدت په هيڅ دستگاه رامنځته کولو ونه توانېد، خو وروسته ورو ورو په دی فکر کی شو چی بايد د خبرو ټول عمده موضوعات يې بايد په يو جامع اثر کی سره راټول کړي، لومړی يې غوښتل چی ددغه اثر نوم (قدرت ته معطوفه اراده) او بيا يې (د ارزښتونو پلټنه) نوم ورته غوره کړ، خو خبره داوه چی نيچه همېشه رنځور وو، مگر د ۱۸۸۹م په جنوري کې په ټولييزه توگه د سيفيليس د دريمې دوری رواني ناروغۍ په پايله کی له پښو ولوېد، او له همغه وخته ترمرگه پوری يانی ۱۹۰۰م پوری بيچاره او ناتوانه د جنون په پنجو کې پروت وو.

ketabton.com - The Digital Library


## هوسرل او هایډګر



یو له هغو فیلسوفانو چی د شلمې پیړۍ په لومړیو کی یې فعالیت کاوو او همیت یې په مراتبو له هغی ډیر دی چی له فلسفې خارج حوزه کی یې لري، دا شخص د ایډمنډ هوسرل په نوم یو جرمنی دی، چی په ۱۸۵۹م کی پیدا او په ۱۹۳۸م کی مړ شو، د یو جامع تصدیق په بنا د هوسرل شهکار هغه اثر دی چی منطقي تحقیقات نومېږي. دا اثر په دوه جلده کی په ۱۹۰۰م او ۱۹۰۱م کی نشر شو، بله لیکنه یې د تصوراتو په نامه دی چی له لومړي اثره دولس کاله وروسته چاپ شو. هوسرل د خپل ځانګړي بحث له مخی په فلسفه کی د آګاهۍ د منظم تحلیل په خاطر یو نوی مکتب پرانیست چی په معاصره فلسفه کی یې پدیده پیژندنه بولي. په دی اصطلاح کې د هر هغه څه تحلیل راځي چی په مستقیمه تجربه پوری اړه لري نه مادي اشیاء. خو په دی کی ډیر جنجالي موارد هم شته، ځکه دا اصطلاح یوازی د شخص په افکارو دردونو عواطفو او خاطراتو نه بلکی په موسیقۍ ریاضیاتو او ډیرو نورو شیانو باندی هم اطلاقیږي.

د هوسرل له پیروانانو یو هم مارټین هایډګر دی، مارټین په ۱۹۲۷م کال د وخت او هستۍ په نامه یو کتاب نشر کړ چی هوسرل ته یې اهداء کړی وو او په دغه لیکنی سره یې مستقله لاره مخکی ونیوله، د هایډګر وخت او هستي کتاب په شلمه پیړۍ

ketabton.com - The Digital Library



کی د اصالت وجود فلسفې یا اگزیتېینشلیزم سرچینه شوه. په شپږاتیاکلنۍ کی مړ شو خو د عمر په دغه اوږده برخه کی یې له یاد کتاب پرته نور ډیر کتابونه هم ولیکل خو شهکار یې همدا وخت او هستي وه. له هایډگر نه مخکی هم اگزیتېینشلیزم شهرت درلود بلخصوص ژان پل سارتر بحث پری درلودلی حتی د سارتر مهم فلسفي کتاب هستي او نیستي هم دا مسئله تر یو اوږده بحث لاندی نیولی ده خو مسلم استاد یې هایډگر وو او داسی عقیده شته چی سارتر دی له هایډگر نه د تاثیر څه بوی اخیستی وي. نو دلته په فلسفه کی له یو روښانه او مشخص تحول سره مخ کیږو چی له هوسرل نه هایډگر ته رسیږي او له هایډگر نه سارتر ته.

دلته اړینه ده چی له یو بل شخص نه هم یادونه وکړو او هغه موریس مولو پونټي وو، چی به ۱۹۴۵م کی یې د حسي ادراک پیژندنی په نامه مهم کتاب خپور کړی وو، سارتر او مولو پونټي یو وخت صمیمي دوستان ول او په شریکه یې یوه مجله هم تأسیس کړی وه، چی مسئولیت یې مولوپونټي ته ورپه غاړه وو، خو عمر یې جفا ورسره وکړه او په دري پنځوس کلنۍ کی مړ شو.

ketabton.com - The Digital Library

## د اصالت عمل فلسفه (امریکایي پیروان)

په فلسفه کی هم د نورو ډیرو زمینو غوندی د انګلیسي ژبې د فعالیت مرکز متحده ایالات دي نه برتانیه. لېکن دا تازه خبره نه ده او د امریکی فلسفه له سل کاله مخکی وخته تر نن پوری نړیوال اهمیت لري، څنګه چی برټراندراسل یې په خپل ژوندلیک کی وایي چی د نولسمې پیړۍ په اواخرو او د شلمی پیړۍ په لومړیو کی د هارورډ د فلسفې له مکتبه بل بهتر ځای نه پیدا کیږي، د امریکا د فلسفې ترټولو برجسته نمایندګان دری نفره ول چی له هغه وخته تر نن پوری هماغسی پایداره پاتی دي. یو له دوئ نه سي ایس پیرس دوهم یې ویلیم جیمز او دریم یې جان دیویي دی. کله دوئ ته د یو کلي عنوان لاندی د اصالت عمل مکتب امریکایي پیروان وایي، خو حقیقت دادی چی ددی دریواړو ترمنځ له هغی تفاوت ډیر دی چی ددغه نامه له عنوان راوځي.



پیرس په هارورډ کی د ریاضۍ د یواستاد زوی وو او په ۱۸۳۹م کال نړۍ ته راغی، او له لومړي سره یې په ریاضیاتو او علومو کی تربیه شوی وه، او د فیزیک له لاری به یې ګټه ترلاسه کوله یوازی په فراغت کی به یې فلسفی ته وخت ورکاوو خو تر اته څلویښت کلنۍ پوری یې بیا ټول وخت فلسفې ته ورکړ او له نورو علمي مشاغلو څنګ ته شو، په تأسف سره باید ووایو چی ددی کار په نتیجه کی کله چی په څلوراویا کلنۍ کی مړ کېده نو ډیر د فقر او غربت ژوند یې درلود. هغه هیڅکله په خپل عمر کتاب ونه لیکه.

ketabton.com - The Digital Library

او ټولی لیکنی یې ترمرګ وروسته په هغه مجموعه کی چاپ شوی چی د مقالاتو مجموعه نوم یې درلود. خو لا تر نن ورځی یې داسی لیکنی شته چی چاپ شوي نه دي.



ویلیم جیمز تقریباً چی د پیرس همزولی وو. په ۱۸۴۲م کی نړی ته راغی د هغه غوندی یې په هارورډ کی تحصیل وکړ او له طب نه خلاص شو، لومړی یې په هماغه پوهنتون کی د اناټومۍ او فیزیولوژۍ درس ورکاوو بیا د فلسفی استاد شو او بلاخره یې د روانشناسۍ تدریس کاوو. له مشهورو کتابونو څخه یې د روانشناسۍ اصول، داخلي سیل، او اصالت عمل یا پریګماټیزم دي. او بلاخره په ۱۹۱۰م کی ومړ. خو جیمز د پیرس په خلاف په خپل ژوند نړیوال شهرت ته ورسېد، جالبه داده چی دده له ورونو نه یو هنري جیمز مشهور رومان لیکونکی وو چی د ژوند په ډیرو شیبو کی یې داسی احساس کاوو چی ګویا د خپل ورور تر شعاع لاندی دی چی نړیوال شهرت یې موندلی.




دریم او وروستی لوړپوړی امریکایي فیلسوف جان دیویي وو چی په ۱۸۵۹م پیدا او په ۱۹۵۲م کی ومړ، دده ټول عمر په پوهنتونونو کی تیر شو، لومړی یې په میشیګن پوهنتون، بیا په شیکاګو پوهنتون، او وروسته یې د نیویارک په کولمبیا پوهنتون کی درس ورکاوو. ډیر کم فیلسوفان به وو چی دده هومره یې په په علمي او ټولنیزو امورو کی تاثیر لرلی وي، صرف فلسفی یې په تربیه او ښوونه کی ځانته نړیوال شهرت درلود، او له

ketabton.com - The Digital Library

فلسفی هاخوا يې هم په جهاني سطحه نوم کم نه وو. کتابونه يې ډير دي خو دلته يې يوازی د يو څو کتابونو نومونه اخلو لکه: ديموکراسي او تربيت، د انسان کردار، تجربه او طبيعت، او د يقين پلټنه.

ketabton.com - The Digital Library

## فرگه او برټرانډ راسل



نن ورځ چې د فلسفې کومه لویه برخه په انگلیسي ژبه د خلکو ترمنځ رواج لري هغه  له دوه کسانو سرچینه اخلي. یو یې گوتلوب فرگه او بل برټرانډراسل دی. فرگه او راسل ترډېره له یو بل نه مستقل کار کاوو، لېکن په خپل کار سره یې د جدید منطق بنیاد کېښود، له هغی پورته چی کوم څه ددی دواړو له لاسه رامنځته شو هغه د ریاضیاتو اصول، او له منطق سره د ریاضیاتو رابطه وه. خو دغو پایلو داسی حالت غوره کړ چی ورو ورو یې په ټوله فلسفه ژور تاثیر پرېښود، همدا خبره د بل فیلسوف ویتگنشټاین باره کی هم کولی شو، هغه هم په ډېر واضح او مستقیم طرز په فرگه او راسل پسی راغی. ویتگنشټاین د راسل له شاگردانو څخه وو او د فرگه په توصیه له هغه د تحصیل د حاصلولو لپاره ورغلی وو، خو وروسته د شلمی پیړۍ د فلسفی په میدان کی داسی ځای ته ورسېد چی هیڅوک یې پله ته نشول رسیدلی.

خو گوتلوب فرگه بیا المانی وو، په ۱۸۴۸م کی نړۍ ته راغلی وو او د ژوند ټوله موده یې د ریاضي په برخه کی په یو نومورکي حالت کی د ینا په پوهنتون کی تیره کړه. او یوازی له مرگ وروسته یې د فلسفې په میدان کی نوم پیدا کړ. لومړنی اثر یې چی په ۱۸۷۹م کی چاپ شو د Begriffsschrift په نامه وو چی که څه هم په انگلیسي ژبه یې د عنوان کافي معادل نه وو نو په همدغه نامه ثبت شو چی مانا یې ده (د نشانو په قالب کی مفهومونه راوړول). په ۱۸۸۴م کی فرگه خپل دوهم اثر چی د حساب د علم

ketabton.com - The Digital Library

بنیاد نومیده منتشر کړ، او له هغې وروسته یې همداسې د مهمو آثارو لیکلو ته ادامه ورکړه. د حساب د علم بنیادي قوانین په نامه یې بل کتاب هم په دوه جلده کې چاپ شو. له دې ټولو سره سره د فرګه لیکنې دومره ژورې او پیچلې وې چې تر څو یې د برټراندراسل توجه جلب نکړې تر هغې د خپلې ژورتیا له امله نا پیژندل شوي پاتې ول.



راسل له فرګه نه بلکل بدل شخص وو. دی د انګلیس د پخوانیو وزیرانو له جملې وو. او د خپل مشر ورور له مرګ وروسته د یو لوی قوم مشرتوب هم همده ته ورپاتې وو، نه یوازې په فلسفه کې بلکې په سیاسي او ټولنیز ژوند کې هم همیشه برجسته شخص وو، او که ووایو دروغ به نه وي چې له بلوغیت عمره ترمرګه پورې تل یو مشهور کس پاتې شوی دی، د کتابونو او جرایدو لیکنې یې په یو لوی حجم کې موندلې شئ. ټول خلک یې د راډیو او ټلویزیون له خپرونو سره بلد وو، راسل د خپل دغسې ټولنیز خوی له امله د انګلستان راتلونکي نسلونه تر خپل ژور تاثیر لاندې راوستلي ول، د فلسفې د لوړې اوازې باعث یې دا وو چې په منطق او ریاضي کې یې ډیر لوړ فني او تخصصي کار کړی وو. نه د سیاسي او ټولنیزو تصوراتو او افکارو په مخ. راسل په ۱۸۷۲م کې نړۍ ته راغی او تر ۱۹۷۰م پورې ژوندی وو. په فلسفه کې یې ستر کار د ۱۹۲۰ او ۱۹۳۰ کلونو په جریان کې پای ته رسیدلی وو خو تقریباً تر مرګه پورې په سیاسي ډګر کې فعال وو.

ketabton.com - The Digital Library

## ویټګنشټاین



په فلسفه کی هم د ژوند د نورو اړخونو غوندی د فعالیت او لیاقت له لحاظه ژوندي اشخاص تر ډیره د مړو کسانو په نسبت تر مناقشی لاندی وي، که تاسی همدا نن په ټوله نړۍ کی د فلسفی د استادانو نظر اخیستی وای چی بهترین ژوندی فیلسوف څوک دی؟، نو یقین لرم چی هیڅ یو کاندید به مطلق اکثریت نه وو راغلی، نو ښه داده چی سړی وپوښتي چی په اخري وفات شوو فیلسوفانو کی بهترین فیلسوف څوک دی او نن ورځ دغسی کس زموږ په نزد ویټګنشټاین دی.

لوډویک ویټګنشټاین په کال ۱۸۸۹م په وین کی نړۍ ته راغی، پلار یې چی وروسته بیا ډیر زیات دولت ده ته په میراث پرېښود داوخت یې په اتریش کی د فولادو له نورو صنعتګرانو سره کار کاوو. ویټګنشټاین له ماشومتوبه له ماشین آلاتو سره شوق درلود او ډیر تحصیلات یې په ریاضیاتو فزیک او هندسه کی وکړل، د اینجینیرۍ له ختمیدو وروسته یې د برلین په مانچسټر کی د هوایي اینجینیرۍ دری کاله تخصص وکړ. په همدغه وخت کی د ماهیت په باب د ژورو مسایلو مجذوب شو چی کار یې پکی کاوو، د برټرانډراسل د ریاضیاتو د اصولو له کتاب نه په الهام یې اینجینیري پریښوده او د ریاضیاتو د فلسفی د مطالعی لپاره کیمبریج ته لاړ، او خپله د راسل تر نظر لاندی تحصیل ته ادامه ورکړه، ډیر وخت نه وو وتلی چی هرهغه څه چی له راسل نه ممکن وو یاد یې کړل، او له هغی وروسته یې بدیعو او مبتکرانه تفکراتو ته مخ کړ، دا تفکر

ketabton.com - The Digital Library

يې د فلسفی په منطقي رساله منجر شو، دا کتاب په ۱۹۲۱م کی نشر شواو معمولاً خپله يې هم په عنوان کی رساله ياد کړی دی.

ویټګنشټاین معتقد وو چی ريښتيا يې هم ټول د فلسفی بنیادي مسایل په دغه کتاب کی حل کړي دي، نو يې فلسفه پريښوده او په نورو کارونو مشغول شو، خو دده رسالی په کیمبریج کی د انګیزو په تحولاتو کی ونډه واخیسته د نویو منطقي پرمختګونو باعث شوه، او په اروپا کی تر بلی هری لیکنی ډیره د عامی مینی او ستاينې ترڅنګ د اروپا د منطقي پوزیټیویسټانو لخوا چی په (وین حلقی) مشهور ول وستایل شوه. خو ویټګنشټاین په خپله دی ټکي ته متوجی شو چی کتاب يې له اساسه خطا دی او بیرته يې فلسفی ته مخه کړه، په ۱۹۲۹م کی بیرته کیمبریج ته راغی او لس کاله يې دغلته د استادۍ په دنده کار وکړ، کیمبریج ته له دوهم ځل راتګ وروسته ویټګنشټاین د اول ځل په تناسب یوه بیخي بدله لاره په مخکی ونیوه، او دا لاره يې یوازی د شخصي ارتباطاتو په مټ نیولی وه او له مرګه مخکی يې یوازی له یوی کوچنۍ مقالی پرته چی په ۱۹۵۱م کی چاپ شوه بل څه خپاره نه کړل. له مرګه دوه کاله وروسته يې د فلسفي تحقیقاتو په نامه دوهم کتاب په ۱۹۵۳م کی چاپ شو چی له دوهم نړیوال جنګ وروسته تر نن ورځی په انګلیسي ژبه بل هیڅ فلسفي کتاب دومره پراخ نفوذ نه دی لرلی.

نو له تیر جریان نه سړی دی نتیجی ته رسيږي چی یو فیلسوف د ژوند په دوه دورو کی دوه مختلف کتابونه لیکلي چی هر کتاب په خپل وخت کی دوه بیلابیل نسلونه مکمل تر خپل تاثیر لاندی راوستي دي. دغه دوه فلسفی له فرق سره سره ځینی مشترکی ځانګړنی هم لري چی هره ځانګړنه يې د یو بیل بحث وړ موضوع ده.

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*